دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدلیې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده گڼه

# دهستوي انرژۍ قانون قانون انرژی هستوی

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۴ هـ.ش کال د وږي دمیاشتې (۳۰)
پرله پسې نمبر:(۱۱۸۲)

تاریخ نشـر: (۳۰)سنبله سال ۱۳۹۴ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۸۲)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۵۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه: بهیـــــر

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباط‌عامه، چهارراهی پشتونستان

د هستوي انرژۍ د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان

ګڼه: (۶۹)

نېټه: ۸/ ۶/ ۱۳۹۴

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د هستوي انرژۍ قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۴/ ۶/ ۱۳۹۴ نېټې (۱۹) ګڼې مصوبې پربنسټ، په (۱۱) فصلونو او (۵۷) مادو کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰ ) ورځو په ترڅ کې هغې شورې ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او

فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح قانون انرژی هستوی

شماره: (۶۹)

تاریخ: ۸/ ۶ /۱۳۹۴

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم مادهٔ هفتادونهم قانون اساسی افغانستان ، قانون انرژی هستوی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۱۹) مؤرخ ۱۳۹۴/۶/۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۱۱) فصل و (۵۷) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

وزیر عدلیه ووزیر دولت درامور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را درخلال مدت (۳۰) روز بعد از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به آن شورا تقدیم نمایند.

مادهٔ سوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ

د کابينې له مصوبې او يادشوي قانون سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپـور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

وهمـــراه بـــا مصـــوبۀ کابينـــه وقانون مذکوردرجريدۀ رســمی نشــر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د هستوي انرژۍ د قانون د طرحې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې مصوبه**

ګڼه: (۱۹)

نېټه: ۴/ ۶/ ۱۳۹۴

د هستوي انرژۍ د قانون طرحه چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۴/ ۶/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې په (۱۱) فصلونو او (۵۷) مادو کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبۀ کابينه جمهوری اسلامی افغانستان درمورد طرح قانون انرژی هستوی**

شماره: (۱۹)

تاریخ: ۴/ ۶ /۱۳۹۴

طرح قانون انرژی هستوی را که درجلسۀ مؤرخ ۱۳۹۴/۶/۴ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۱۱) فصل و (۵۷) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

# فهرست مندرجات

## قانون انرژی هستوی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀاول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | ساحه تطبیق | ۲ |
| مادۀ چهارم: | موارد استفاده | ۲ |
| مادۀ پنجم : | اداره تطبیق کننده | ۳ |
| مادۀ ششم : | اصطلاحات | ۳ |
| مادۀ هفتم : | وظایف و صلاحیت های اداره | ۱۲ |
| مادۀ هشتم : | ایجاد کمیسیون | ۱۳ |


## فصل دوم

## جوازنامه


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ نهم : | صدور جوازنامه | ۱۵ |
| مادۀ دهم : | موارد صدور جواز نامه و اجازه نامه | ۱٦ |
| مادۀ یازدهم: | موانع کار | ۱۹ |
| مادۀ دوازدهم: | حالات لغو جواز نامه و اجازه نامه | ۲۰ |
| مادۀ سیزدهم: | انصراف از فعالیت هستوی | ۲۰ |

مادۀ چهاردهم: توظیف مفتشین.......................................۲۱
مادۀ پانزدهم: تنفیذ تدابیر...........................................۲۲
مادۀ شانزدهم: اصول بنیادی.........................................۲۳
مادۀ هفدهم: کنترول و مراقبت منابع و عملکرد ها.................۲۴
مادۀ هجدهم: عدم کنترول و مراقبت منابع و عملکرد ها............۲۵
مادۀ نزدهم: مکلفیت دارندگان جواز نامه و اجازه نامه در محافظت شعاع................................................۲۶
مادۀ بیستم: مکلفیت اداره.............................................۲۷
مادۀ بیست ویکم: ثبت منابع تشعشع...................................۲۸
مادۀ بیست ودوم: صادرات و واردات..................................۲۸
مادۀ بیست وسوم: کنترول منابع بی سرپرست.........................۲۸
مادۀ بیست و چهارم: کنترول ریکتور های تحقیقاتی وصنعتی................۲۹
مادۀ بیست و پنجم: موارد انحلال تأسیسات...........................۳۰
مادۀ بیست وششم: طرح انحلال.......................................۳۱
مادۀ بیست و هفتم: مکلفیت دارنده جواز نامه در مرحله انحلال..........۳۲
مادۀ بیست و هشتم: منابع مالی پروسه انحلال.........................۳۴
مادۀ بیست و نهم: ممنوعیت فعالیت در جوار مرکز هستوی..............۳۴
مادۀ سی ام: جواز نامه فعالیت های تحقیقاتی و صنعتی............ ۳۵
مادۀ سی و یکم: پلان حالت اضطراری................................۳۶
مادۀ سی و دوم: پلان ملی حالات اضطراری..........................۳۶

مادۀ سی و سوم: حالت اضطراری بیرون مرزی ......................... ۳۷
مادۀ سی و چهارم: تنظیم فعالیت استخراج و پروسس.................. ۳۷
مادۀ سی و پنجم: فعالیت های استخراج معدن.......................... ۳۹
مادۀ سی و ششم: مکلفیت های دارنده اجازه نامه استخراج معدن....... ۴۱
مادۀ سی و هفتم: مصئونیت مواد رادیواکتیف........................... ۴۲
مادۀ سی و هشتم: مکلفیت دارنده جوازنامه تنظیم مواد فاضله رادیواکتیف۴۲
مادۀ سی و نهم: داشتن جواز نامه کار در مرکز اداره مواد فاضله...... ۴۳
مادۀ چهلم: داشتن پلان دفع مواد فاضله.............................. ۴۴
مادۀ چهل و یکم: منع تورید مواد فاضله رادیواکتیف.................. ۴۴
مادۀ چهل و دوم: تنظیم صدور مواد فاضله رادیواکتیف................ ۴۵
مادۀ چهل و سوم: همکاری در تطبیق تدابیر............................ ۴۷
مادۀ چهل و چهارم: ایجاد سیستم ها..................................... ۴۷
مادۀ چهل و پنجم: اجازه نامه صادرات مواد، تجهیزات و تکنالوژی......
هستوی............................................ ۴۷
مادۀ چهل و ششم: اجازه نامه واردات مواد، تجهیزات و تکنالوژی...........
هستوی............................................ ۴۹
مادۀ چهل و هفتم: ممنوعیت استفاده.................................. ۵۰
مادۀ چهل و هشتم: شرایط محافظت فزیکی............................. ۵۰
مادۀ چهل و نهم: اطلاع از سرقت مواد هستوی......................... ۵۱
مادۀ پنجاهم: مسئولیت دارنده جواز نامه.............................. ۵۲

مادۀ پنجاه ویکم: مدت مرور زمان جبران خساره........................۵۳
مادۀ پنجاه و دوم: درخواست جبران خساره...........................۵۴
مادۀ پنجاه و سوم: حالات رفع مسئولیت................................۵۵
مادۀ پنجاه و چهارم: تخلفات.............................................۵۶
مادۀ پنجاه و پنجم: مجازات..............................................۵۸
مادۀ پنجاه و ششم: پیشنهاد مقرره ها و وضع طرزالعمل ها................۶۰
مادۀ پنجاه و هفتم: انفاذ..................................................۶۱

# د هستوي انرژۍ قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځلسمې او دوه پنځوسمې مادې د حکمونو په رڼا کې وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

دغه قانون د لاندې موخو د پلې کېدو په منظور وضع شوی دی:

۱- د طبابت، کرنې، صنعت، کانونو، او نورو سوله ییزو مقصدونو په برخه کې له هستوي انرژۍ څخه ګټوره استفاده.

۲- د رادیو اکتیف موادو او د هغو د سرچینو د خوندیتوب او امنیت تأمین.

۳- د رادیو اکتیف د وړانګو(تشعشعاتو) په وړاندې د ژوند چاپېریال خوندي یتوب او د هغو له مضرو اغېزو څخه مخنیوی.

۴- د رادیو اکتیف او نورو هغو موادو له استعمال او خپرېدو څخه مخنیوی چې په

# قانون انرژی هستوی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون درروشنی احکام مواد پانزدهم وپنجاه ودوم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

این قانون به منظورتحقق اهداف ذیل وضع گردیده است:

۱- استفاده مفید ازانرژی هستوی درعرصه های طبابت، زراعت،صنعت، معادن وسایرمقاصد صلح آمیز.

۲- تأمین مصئونیت وامنیت مواد رادیو اکتیف ومنابع آن .

۳- مصئونیت محیط زیست دربرابرتشعشعات رادیواکتیف وجلوگیری ازاثرات مضر آن.

۴- جلوگیری ازاستعمال وانتشار مواد رادیواکتیف، وسایرموادیکه به تنهایی یا

يوازې ځان (يوازيتوب) يا په مركبه توګه د حيه موجوداتو روغتيا ته زيان ورسوي.

۵- د هستوي فعاليتونو او د راديو اكتيف د فاضله موادو كنترول او مراقبت.

٦- د هستوي ممنوعه موادو او راديو اكتيف له لېږدونو څخه كنترول او څارنه

## د تطبيق ساحه

**درېيمه ماده:**

دغه قانون، د هستوي انرژۍ يا په هغې پورې اړوند د هر ډول فعاليت چې د هستوي انرژۍ د ادارې په واسطه مشخصېږي، د توليد، تصرف، وارداتو، صادراتو، لېږدرالېږد، مراقبت، ادارې او سوله ييزې ګټې اخيستنې په هكله، د تطبيق وړ دی.

## د ګټې اخيستنې موارد

**څلورمه ماده:**

هستوي انرژي او آيونايزونكي تشعشع د سوله ييزو مقصدونو د پوره كولو له پاره ترګټې اخيستنې لاندې نيول كېږي.

د هستوي چاودېدونكو موادو، هستوي موادو خپروونكو دستګاوو ترلاسه كول يا د هغو پرمختيا يا په هغو پورې د هر

طورمركب صحت موجودات حيه را متضرر سازد.

۵- كنترول ومراقبت از فعاليت هاى هستوى ومواد فاضله را ديواكتيف.

٦- كنترول ونظارت از انتقالات مواد ممنوعه هستوى وراديو اكتيف.

## ساحۀ تطبيق

**مادۀ سوم:**

اين قانون در مورد توليد، تصرف، واردات، صادرات، حمل و نقل، كنترول، مراقبت، اداره واستفاده صلح آميزازانرژى هستوى يا هرنوع فعاليت مرتبط به آنها كه توسط اداره انرژى هستوى مشخص مى گردد، قابل تطبيق مى باشد.

## موارد استفاده

**ماد ۀ چهارم:**

انرژى هستوى وتشعشع آيونايزكننده جهت برآورد ه شدن مقاصد صلح آميزمورد استفاده قرارمى گيرد.

حصول مواد منفجره هستوى، دستگاه هاى پخش كننده مواد هستوى يا انكشاف آن يا هرنوع فعاليت غيرصلح

ډول غیر سوله ییز فعالیت او یا په دې مواردو کې له نورو سره همکاري منع ده.

**تطبیقوونکې اداره**

**پنځمه ماده:**

(۱) د هستوي انرژۍ اداره، د هېواد په سطح ددې قانون د حکمونو د تطبیق مسئوله ده.

(۲) د هستوي انرژۍ اداره له دې وروسته په دې قانون کې د ادارې په نوم یادېږي.

**اصطلاحګانې**

**شپږمه ماده:**

لاندې اصطلاحګانې په دې قانون کې دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- رادیو اکتیف مواد: هغه مواد دي چې د الفا، بیتا، ګاما وړانګې او نیوترونونه له هغو څخه خپل په خپله خپرېږي.

۲- هستوي فعالیت: د تشعشع د سرچینو تولید، برابرول، پروسس، پېر، پلور، تصرف، وېش، کارول(استعمال) واردات، صادرات، او د صنعتي، تحقیقي، کرنیز او طبابت د مقصدونو له پاره د هستوي ریکتورونو تأسیس او په کار اچول، د

آمیزمرتبط به آنها ویا همکاری دراین موارد با دیگران ممنوع می باشد.

**ادارهٔ تطبیق کننده**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) ادارهٔ انرژی هستوی مسئول تطبیق احکام این قانون درسطح کشورمی باشد.

(۲) ادارهٔ انرژی هستوی منبعد دراین قانون بنام اداره یاد می گردد.

**اصطلاحات**

**مادهٔ ششم:**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- مواد رادیواکتیف: موادی است که شعاع الفا، بیتا، گاما ونیوترونها ازآن بطورخود بخودی پخش می شود.

۲- فعالیت هستوی: شامل تولید، تهیه، پروسس، خرید، فروش، تصرف، توزیع، استعمال، واردات وصادرات منابع تشعشع، تأسیس وبکارانداختن ریکتورهای هستوی برای مقاصد صنعتی، تحقیقی، زراعتی، طبابت، حمل و نقل

راديو اكتيف موادو لېږد رالېږد، د فعاليت د مركزونو انحلال او د راديو اكتيف د فاضله موادو اداره پکې شامل دي.

۳- جواز ليک: ليکلی رسمي سند دی چې د يوه ځانګړي هستوي فعاليت د اجرأ په منظور، د ادارې له خوا، ددې قانون د حکمونو مطابق ورکول کېږي.

۴- اجازه ليک: رسمي ليکلی سند دی چې د يوه مشخص هستوي فعاليت د اجرأ په منظور د ادارې له خوا ددې قانون د حکمونو مطابق ورکول کېږي.

۵- په هستوي تأسيساتو کې:

شامل دي:

- هرډول ريکتور چې د انرژۍ د سرچينې (منبع) په توګه يا په نورو مقصدونو ترګټې اخيستنې لاندې نيول کېږي، هغه ريکتور چې ديوې ترانسپورتي بحري وسيلې د تجهيزله پاره دانرژۍ د سرچينې په توګه ترګټې اخيستنې لاندې نيول کېږي، له دې تعريف څخه مستثني دی.

- هغه فابريکې چې د هستوي موادو د توليد يا د هغو د پروسس يا تشعشع ته د معروض راديواکتيف د سون د موادو د

مواد راديواكتيف، انحلال مراكز فعاليت و اداره مواد فاضله راديواكتيف، می باشد.

۳- جواز نامه: سند رسمی کتبی است که به منظوراجرای فعاليت هستوی ازطرف اداره مطابق احكام اين قانون اعطاء می گردد.

۴- اجازه نامه: سند رسمی کتبی است که به منظوراجرای يک فعاليت هستوی مشخص ازطرف اداره مطابق احكام اين قانون اعطاء می گردد.

۵- تأسيسات هستوی:

شامل:

- هرنوع ريكتوركه منحيث منبع انرژی يا به مقاصد ديگر مورد استفاده قرار می گيرد، ريكتور که منحيث منبع انرژی برای تجهيزيک وسيله بحری ترانسپورتی مورد استفاده قرارمی گيرد ازاين تعريف مستثنی می باشد.

- فابريكه های که ازمواد سوخت هستوی برای توليد مواد هستوی يا پروسس آن يا جهت پروسس مجدد مواد

بیا پروسس له پاره تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

– هغه مرکزونه چې په هغو کې هستوي مواد ساتل کېږي.

۶– هستوي زیان:

ځاني یا جسمي زیان یا ملکیتونو ته اووښتي تاوان دی چې د هستوي فعالیت یا په هغهٔ پورې د نورو اړوندو فعالیتونو له امله منځ ته راځي.

۷– هستوي پېښه ( واقعه): پېښه یا د پېښو لړۍ ده چې ورته منشأ لري او د هستوي زیان سبب ګرځي.

۸– آیونایز کوونکې تشعشع: هغه وړانګه ده چې په عضوي موادو کې د چارجونو د جفت د تولید د وړتیا ( قابلیت) لرونکې وي.

۹– د تشعشع سرچینه: د رادیواکتیف وړانګې مولِّد یا نور رادیواکتیف مواد دي چې په هستوي څېړنیزو او صنعتي ریکتورونو پورې د اړوندو هستوي محروقاتو له دوران څخه رابهر کېږي.

۱۰– د رادیواکتیف فاضله مواد شامل دي:

سوخت را دیو اکتیف معروض به تشعشع مورد استفاده قرار می گیرد.

– مراکزیکه درآن مواد هستوی نگهداری می شود.

۶– صدمه هستوی:

آسیب جانی یا جسمی ویا وارد شدن خساره به ملکیت ها بوده که بالاثر فعالیت هستوی یا سایرفعالیت های مرتبط به آن بوجود می آید.

۷– حادثه هستوی: واقعه یا سلسله ازواقعات است که منشأ مشابه داشته وسبب صدمه هستوی میگردد.

۸– تشعشع آیونایزکننده: اشعهٔ است که قابلیت تولید جفت چارج ها را درمواد عضوی دارا باشد.

۹– منبع تشعشع: مؤلد اشعه رادیو اکتیف یا سایرمواد رادیو اکتیف است که از دوران محروقات هستوی مربوط به ریکتورهای تحقیقاتی وصنعتی هستوی خارج می گردد.

۱۰– مواد فاضله رادیواکتیف شامل:

– ټول هغه مواد چې د راديواکتيف موادو د تعاملاتو په پايله کې پاتې کېږي او په راتلونکي کې له هغو څخه زياته ګټه اخيستنه، په پام کې نه وي.

– هغه مواد دي چې د راديواکتيف موادو لرونکي يا په هغو موادو ککړ وي او هم د اکتيفيتي يا د زيات اکتيفيتي غلظت لرونکي وي چې له احوالو سره سم، کنترول او مراقبت ايجابوي.

۱۱– هستوي مواد: هغه مواد دي چې ددې قانون د حکمونو مطابق د ادارې له خوا د کنترول او مراقبت وړ تشخيص شي.

۱۲– صادرات: د هستوي موادو يا اړوندو تجهيزاتو، معلوماتو او تکنالوژۍ او يا نورو راديواکتيف موادو، د هغو د سرچينو په شمول فزيکي لېږد دی چې له هېواد څخه بهر ته صادرېږي.

۱۳– واردات: د هستوي موادو يا اړوندو تجهيزاتو، معلوماتو او تکنالوژۍ او يا نورو راديواکتيف موادو، د هغو د سرچينو په شمول فزيکي لېږد دی چې له

– تمام موادی است که درنتيجه تعاملات مواد راديو اکتيف باقيمانده واستفاده بيشترازآن درآينده مدنظر نباشد.

– موادی است که دارای مواد را ديو اکتيف يا با آن مواد آلوده بوده ونيزدارای اکتيفيتی يا غلظت اکتيفيتی بيشتر می باشد، که حسب احوال ايجاب کنترول ومراقبت را می نمايد.

۱۱– مواد هستوی: موادی است که طبق احکام اين قانون ازطرف اداره قابل کنترول ومراقبت تشخيص گردد.

۱۲– صادرات: انتقال فزيکی مواد هستوی يا تجهيزات مربوطه، معلومات وتکنالوژی ويا سايرمواد راديو اکتيف به شمول منابع آن است که از کشوربه خارج صادر می گردد.

۱۳– واردات: انتقال فزيکی مواد هستوی يا تجهيزات مربوطه، معلومات وتکنالوژی ويا سايرمواد راديو اکتيف به شمول منابع آن است که ازخارج به

بهر څخه د هېواد دننه ته واردېږي.

۱۴- دستگاه: وړانگه خپروونکي تأسیسات، د رادیواکتیف د اومومو‌ادو د کانونو د استخراج (راایستلو) او پروسس مرکزونه، د رادیواکتیف د فاضله موادو د اداري مرکزونه او نورې هغه دستگاوې پکې شاملې دي چې په هغو کې رادیو اکتیف مواد تولید، پروسس، گټه اخیستنه،مراقبت، زېرمه یا دفع کېږي او د ملاحظې وړاندازې، ساتنه ایجابوي.

۱۵- هستوی مرکز: هغه ځای دی چې هلته له هستوي موادو څخه په گټې اخیستنې سره فعالیتونه او کړنې ترسره کېږي او د هستوي انرژۍ د تولید مرکز، څېړنیز (تحقیقاتي) ریکتور، د هستوي موادو د نهایي غني کولو (بډاینې) مرکز، د مصرف شوو هستوي موادو د ساتنې مرکز، د غني کولو دستگاه، د بیا پروسس مرکز، او یا نور ځایونه چې د ادارې په واسطه مشخصېږي، پکې شامل دي.

۱۶- هستوي اسرار: په ټولو هغه ډول هستوي موادو، تخنیکونو، لیکلیو، شفاهي، الکترونیکي او یا هم تکنالوژي

داخل کشور وارد می گردد.

۱۴- دستگاه: شامل، تأسیسات پخش کننده شعاع، مراکزاستخراج معادن و پروسس مواد خام رادیواکتیف، مراکزادارهٔ مواد فاضله رادیو اکتیف و سایردستگاه های است که درآن مواد رادیو اکتیف، تولید، پروسس، استفاده، مراقبت، ذخیره ویا دفع می شود، وبه اندازه قابل ملاحظه ایجاب محافظت را نماید.

۱۵- مرکزهستوی: محلی است که درآن فعالیت ها وعملکرد با استفاده ازمواد هستوی اجراء گردیده وشامل مرکزتولید انرژی هستوی، ریکتور تحقیقاتی، مرکزغنی سازی نهایی مواد هستوی، مرکزنگهداشت مواد هستوی به مصرف رسیده، دستگاه غنی سازی، مرکزپروسس مجدد ویا سایرمحلاتیکه توسط اداره مشخص می گردد.

۱۶- اسرارهستوی: به تمام آن دسته مواد، تخنیکها، معلومات کتبی، شفاهی والکترونیکی ویا هم تکنالوژی هستوی

معلوماتو اطلاقېږي چې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د هستوي وسلې په توليد، برابرولو، پروسس، پېر، پلور، تصـرف، وېش او استعمال کې له هغو څخه ګټـه اخيستل کېږي.

۱۷- د اضطرار حالت: هغه حالت دی چې له هستوي ځنځيره يي تعامـل يـا د ځنځيره يي تعامل د محصولاتو له انحلال او يا په هغهٔ کې تشعشع ته معروض راپيدا شوي خطرونه متصور وي.

۱۸- بـې سرپرسـته سـرچينه: د راديواکتيف سرچينه ده چې تر کنترول او مراقبت لاندې نه وي او له مناسب مجوز پرته متروکه، غلا يا له اصلي ځايه څخـه بې ځايه او يا لېږدول شوې وي.

۱۹- د مسئوليت رفع: د راديواکتيـف موادو يا تجهيزاتو ايستل ( خـارجول) د داسې مجاز کړنو په حدودو کـې چـې کنترول او مراقبت نه ايجابوي.

۲۰- تشول: د فاضل آب او هغهٔ ګـاز پاشل( تيتول) چې په مجاز حد کې پـه راديواکتيف موادو ککړ وي او د ژونـد چاپېريال ته خطر نه رسوي.

اطلاق می گـردد کـه بطورمسـتقيم ويا غيرمستقيم ازآن درتوليـد، تهيـه، پروسس، خريد، فروش، تصرف، توزيع واستعمال اسـلحه هسـتوی اسـتفاده می گردد.

۱۷- حالت اضطرار: حالت است کـه خطرات ناشی ازتعامل زنجيری هستوی يا انحلال محصولات تعامل زنجير ی ويا معروض بـه تشعشـع درآن متصـور باشد.

۱۸- منبع بی سرپرست: منبع راديـو اکتيف است که تحت کنترول ومراقبت نبوده وبدون مجوزمناسـب متـروک، سرقت، يا ازمحل اصلی بيجاه و يا منتقل شده باشد.

۱۹- رفع مسئوليت: خارج ساختن مواد يا تجهيزات راديو اکتيـف درحـدود عملکرد مجاز است که ايجاب کنترول ومراقبت را نمی نمايد.

۲۰- تخليه: پراگنده ساختن فاضل آب وگازيکه آلوده به مواد راديو اکتيف به حد مجازبوده وخطری را بـه محـيط زيست وارد نمی نمايد.

۲۱- دفع: په يوهٔ مناسب ځای کې د بيا ګټې اخيستنې له مقصد پرته د راديواکتيف د سون د مصرف شوو موادو يا فاضله موادو ځای پر ځای کول دي.

۲۲- معافيت: هغه طبيعي راديواکتيف مواد دي چې کنترول نه ايجابوي.

۲۳- مداخله ( لاسوهنه): هغه عمل دی چې په سرچينو کې د معروضيت يا د معروضيت د احتمال د راټيټولو يا د دفع په منظورصورت مومي، د کنترول شوو کړنو له جملې څخه نه دی، د يوې غير مترقبه پېښې په پايله کې رامنځته کېږي.

۲۴- متصدي: د هستوي فعاليت د جواز لرونکی حقيقي يا حکمي شخص دی.

۲۵- د راديواکتيف سرچينه: نازک قشر ( پوښل شوی کپسول) دی چې راديواکتيف مواد په هغهٔ کې په دايمي توګه بسته بندي کېږي او د کنترول او مراقبت وړ دی.

۲۶- د راديواکتيف زباله: هغه استعمال شوي راديواکتيف مواد دي چې بياګټه اخيستنه يې په پلان کې شامله نه وي.

۲۱- دفع: جابجاسازی مواد سوخت مصرف شده يا مواد فاضله راديو اکتيف دريک مرکز مناسب است بدون مقصد استفاده مجدد آن.

۲۲- معافيت: مواد راديو اکتيف طبيعی است که ايجاب کنترول را نمی نمايد.

۲۳- مداخله: عملی است که به منظورکاهش يا دفع معروضيت يا احتمال معروضيت در منابع صورت گرفته، ازجمله عملکردهای کنترول شده نبوده ودرنتيجه يک حادثه غيرمترقبه به وجود می آيد.

۲۴- متصدی: شخص حقيقی يا حکمی دارنده جوازفعاليت هستوی می باشد.

۲۵ - منبع را ديو اکتيف: قشر نازکی (کپسول پوشيده) است که مواد راديو اکتيف درآن به شکل دايمی بسته بندی گرديده وقابل کنترول ومراقبت می باشد.

۲۶- زباله راديو اکتيف: مواد راديواکتيف استعمال شده است که استفاده مجدد آن شامل پلان نمی باشد.

۲۷- خونديتوب: د تشعشع د خطرونو په وړاندې د ژوند د چاپېريال ساتنه او د هغو مرکزونو او فعاليتونو خونديتوب دی چې د تشعشع د خطرونو د زياتېدو موجب کېږي.

۲۸- امنيت: هغه تدبيرونه دي چې د هستوي موادو يا د راديواکتيف د نورو موادو له غلا، سبوتاژ، غيرمجازې لاس رسی، غير قانوني لېږد رالېږد او يا د هستوي موادو، تجهيزاتو او اړوندو اسانتياوو په هکله د نورو ناوړو اعمالو د مخنيوي په منظور نيول کېږي.

۲۹- کړنه: هغه بشري فعاليت دی چې د معروضيت د اضافي سرچينې يا د معروضيت نورې لارې چارې څرګندوي.

۳۰- شخص عبارت له:

۱-کورنی حقيقي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان د تابعيت لرونکی وي.

۲- کورنی حکمي شخص: هغه شخص دی چې د مؤسسې، شرکت، انحصاري مالکيت، محدود المسئوليت شرکت، مؤقت مشارکت، مؤقتي پانګې اچونې، د

۲۷- مصئونيت: حفاظت محيط زيست است درمقابل خطرات تشعشع ومصئونيت مراکز و فعاليت های که موجب ازدياد خطرات تشعشع می گردد.

۲۸- امنيت: تدابيراست که به منظورجلوگيری از سرقت، سبوتاژ، دسترسی غير مجاز، حمل ونقل غيرقانونی يا اعمال سوء ديگری درموردمواد هستوی يا ساير مواد راديو اکتيف، تجهيزات وتسهيلات مربوطه اتخاذ می گردد.

۲۹- عملکرد: فعاليت بشری است که منابع اضافی معروضيت يا سايرطرق معروضيت را نشان می دهد.

۳۰- شخص عبارت از:

۱- شخص حقيقی داخلی: شخصی است که دارای تابعيت افغانستان باشد.

۲- شخص حکمی داخلی: شخصی است که به شکل مؤسسه، شرکت، مالکيت انحصاری، شرکت محدودالمسئوليت، مشارکت مؤقت،

خاص يا عام سهامي شرکت او اتحاديې يا هر ډول بلې انتفاعي مؤسسې په ډول چې د قانون د حکمونو مطابق تأسيس شوې وي.

۳- بهرنی حقيقي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان له تابعيت پرته تابعيت ولري.

۴- بهرنی حکمي شخص: هغه شخص دی چې د هغهٔ حقوقي شخصيت د بهرنيو نافذه قوانينو د حکمونو مطابق مشخص او د فعاليت جواز يې ترلاسه کړی وي.

۳۱- د ژوند چاپېريال: طبيعي سرچينې، د طبيعي سرچينو د اجزاوو ترمنځ يا د نوموړو اجزاوو او انسانانو او حيواناتو ترمنځ تعاملات، فزيکي، فرهنګي، تزئيني (ښکلاييز) خواص يا هغه شرايط پکې شامل دي چې د هغوی روغتيا او سلامتي تر اغېزې لاندې راولي.

۳۲- د راديولوژيکي موادو خطر: هغه خطر دی چې عوارض يې په انسانانو کې د سوځېدنې، استفراغ، بې اشتهايي، د وېښتو د تويېدو او اسهال په ډول فوراً څرګندېږي او په راتلونکو نسلونو کې د

سرمايه گذاری مؤقت، شرکت های سهامی خاص يا عام واتحاديه يا هرنوع مؤسسه ديگرانتفاعی که مطابق احکام قانون تأسيس گرديده باشد.

۳- شخص حقيقی خارجی: شخصی است که تابعيت غيرازتابعيت افغانستان را داشته باشد.

۴- شخص حکمی خارجی: شخصی است که شخصيت حقوقی وی طبق احکام قوانين نافذه خارجی مشخص وجوازفعاليت را کسب نموده باشد.

۳۱- محيط زيست: شامل منابع طبيعی، تعاملات بين اجزای منابع طبيعی يا بين اجزای مذکور و انسانها وحيوانات، خواص فزيکی، فرهنگی، تزئينی يا شرايطی است که صحت وسلامت آنها را تحت تاثيرقرارمی دهد.

۳۲- خطرمواد راديو لوژيکی: خطری است که عوارض آن درانسانها به شکل سوختگی، استفراغ، بی اشتهايی، ريزش موی واسهال فوراً ظاهرشده يابعد ازمدت طولانی به انواع

سرطانونو او سوء شکل په بنه څرګندېږي او د هغهٔ له ټاکلي حد څخه د زیات استعمال په صورت کې پر حیواناتو او نباتاتو هم منفي اغېزې پر ځای پرېږدي.

## د ادارې دندې او واکونه

اوومه ماده:

اداره د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د ایونایزکوونکې تشعشع د احتمالي اغېزو په وړاندې د ژوند چاپېریال د خوندیتوب په منظور، د معیارونو ټاکل.

۲- د جواز لیکونو او اجازه لیکونو صادرول، تمدید، تعدیل، تعلیق او لغو.

۳- ددې قانون د حکمونو مطابق د جوازلیکونو او اجازه لیکونو د لرونکو د مرکزونو، فعالیتونو او کړنو کنترول او مراقبت.

۴- ددې قانون له حکمونو څخه د سرغړونو په هکله د تصمیمونو نیول.

۵- په اړوندو ډګرونو (عرصو) کې د اتمي انرژۍ له بین المللي آژانس سره مرسته.

۶- د هستوي موادو او نورو رادیواکتیف

سرطانها وسوء شکل درنسل های آینده آشکارمی گردد. ودرصورت استعمال بیش ازحد معین آن، بالای حیوانات ونباتات نیز تاثیرات منفی بجا می گذارد.

## وظایف وصلاحیت های اداره

مادهٔ هفتم:

اداره دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تعیین معیارها به منظورمصئونیت محیط زیست درمقابل تاثیرات احتمالی تشعشع ایونایزکننده.

۲- صدور، تمدید، تعدیل، تعلیق و لغو جوازنامه ها و اجازه نامه ها.

۳- کنترول، مراقبت وارزیابی مراکز، فعالیت ها وعملکرد های دارندگان جوازنامه واجازه نامه ها مطابق احکام این قانون.

۴- اتخاذ تصامیم درمورد تخلفات ازاحکام این قانون.

۵- همکاری با آژانس بین المللی انرژی اتمی درعرصه های مربوط.

۶- اتخاذ تدابیرلازم نظارتی غرض

موادو، تجهيزاتو او اړوندو تأسيساتو د امنيت په غرض د لازمو څارنيزو تدبيرونو نيول.

۷- د نورو هېوادونو له څارنيزو مقاماتو او اړوندو بين المللي سازمانونو سره د معلوماتو تبادله او همکاري.

۸- د مقررو د طرح او د کړنلارو او لازمو لارښودونو وړانديز.

۹- د اړوندو کړنلارو مطابق د نورو دندو اجرأ کول.

## د کمېسيون جوړول

**اتمه ماده:**

(۱) په هستوي فعاليتونو پورې د اړوندو چارو د ښه تنظيم په منظور، د هستوي انرژۍ عالي کمېسيون، د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تر رياست لاندې په لاندې ترکيب سره جوړېږي:

۱-د بهرنيو چارو وزير د غړي په توگه.

۲- د کورنيو چارو وزير د غړي په توگه.

۳- د ملي دفاع وزير د غړي په توگه.

۴- د عدليې وزير د غړي په توگه.

۵- د عامې روغتيا وزير د غړي په توگه.

۶- د انرژۍ او اوبو وزير د غړي په

امنيت مواد هستوی و ساير مواد راديواکتيف، تجهيزات و تأسيسات مربوطه.

۷- تبادل معلومات وهمکاری با مقامات نظارتی سايرکشورها و سازمان های بين المللی مربوط.

۸- پيشنهاد طرح مقرره ها و وضع طرزالعمل ها و رهنمودهای لازم.

۹- اجرای سايروظايف طبق طرزالعمل های مربوطه.

## ايجاد کميسيون

**مادهٔ هشتم:**

(۱)به منظورتنظيم بهتر امورمربوط به فعاليت هستوی کميسيون عالی انرژی هستوی تحت رياست رئيس جمهوری اسلامی افغانستان به ترکيب ذيل ايجاد می گردد:

۱- وزيرامورخارجه بحيث عضو.

۲- وزيرامورداخله بحيث عضو.

۳- وزيردفاع ملی بحيث عضو.

۴- وزيرعدليه بحيث عضو.

۵- وزيرصحت عامه بحيث عضو.

۶- وزيرانرژی وآب بحيث

توګه.

۷- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر د غړي په توګه.

۸- د لوړو زده کړو وزیر د غـــړي پـــه توګه.

۹- د کانونو او پترولیم وزیر د غړي په توګه.

۱۰- د ملي امنیت لوی رئیس د غړي په توګه.

۱۱- د ژوند چاپیریال ســاتنې د ملــي ادارې لوی رئیس د غړي په توګه.

۱۲- د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي له استادانو څخه یو تن د غړي په توګه.

۱۳- د کابـــل پـــولي تخنیـــک د الکتروتخنیک له استادانو څخه یو تـــن د غړي په توګه.

۱۴- د هستوي انرژۍ د ادارې رئیس د منشي او غړي په توګه.

(۲) د هستوي انرژۍ د عالي کمېسیون د فعالیت ډول ددې قانون د حکمونو پـــه رعایتولو سره، د جلا لایحې مطابق چې د هستوي انرژۍ د عالي کمېسیون له لوري تصویبېږي، تنظیمېږي.

عضو.

۷- وزیر زراعت، آبیاری و مالـــداری بحیث عضو.

۸- وزیرتحصـــیلات عـــالی بحیـــث عضو.

۹- وزیرمعـــادن وپتـــرولیم بحیـــث عضو.

۱۰- رئیس عمومی امنیت ملی بحیـــث عضو.

۱۱- رئیس عمومی ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست بحیث عضو.

۱۲- یک تن ازاستادان پوهنځی ساینس پوهنتون کابل بحیث عضو.

۱۳- یـــک تـــن ازاســـتادان الیکتروتخنیک پـــولی تخنیـــک کابـــل بحیث عضو.

۱۴- رئـــیس اداره انـــرژی هســـتوی بحیث عضوومنشی.

(۲) طرز فعالیت کمیسیون عالی انرژی هستوی با رعایت احکام این قانون طبق لایحۀ جداگانۀ که ازطرف کمیســیون عالی انرژی هستوی تصویب می شود، تنظیم می گردد.

## دوه يم فصل

## جوازليک

### د جواز ليک صادرېدل

**نهمه ماده:**

(۱)هېڅ شخص نه شي کولای په دې قانون کې د درج شوي جوازليک او اجازه ليک له لرلو پرته، هستوي فعاليت سرته ورسوي.

(۲) د سوله ييزو مقصدونو د هستوي فعاليت جوازليک د حقيقي يا حکمي اشخاصو د غوښتنليک مطابق د ادارې له خوا صادرېږي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جوازليک د (۱۵۰۰۰۰) يو سلو پنځوسو زرو افغانيو په بدل کې د يوه کال مودې له پاره ورکول کېږي.

(۴) اداره کولای شي ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی غوښتنليک تر غور او ارزونې لاندې ونيسي، د هغه د منلو يا رد په هکله تصميم ونيسي.

(۵) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی غوښتنليک رد شي، اداره

## فصل دوم

## جوازنامه

### صدورجوازنامه

**مادۀ نهم:**

(۱) هيچ شخص نمی تواند بدون داشتن جوازنامه واجازه نامه مندرج اين قانون فعاليت هستوی را انجام دهد.

(۲) جوازنامه فعاليت هستوی به مقاصد صلح آميزبه اساس درخواست اشخاص حقيقی يا حکمی مطابق احکام اين قانون ازطرف اداره صادرمی گردد.

(۳) جوازنامه مندرج فقرۀ (۱) اين ماده دربدل مبلغ (۱۵۰۰۰۰) يکصد وپنجاه هزار افغانی برای مدت (۱) سال اعطاءمی گردد.

(۴) اداره می تواند درخواست مندرج فقرۀ (۲) اين ماده را مورد غور و ارزيابی قرارداده، درمورد قبولی يا رد آن تصميم اتخاذ نمايد.

(۵) هرگاه درخواست مندرج فقرۀ (۲) اين ماده رد گردد،اداره مکلف است

مکلفه ده د هغهٔ دلایل په هر اړخیزه توګه تر غور او ارزونې لاندې ونیسي، زیات نه زیات د دریو میاشتو مودې په ترڅ کــې غوښتنلیک ورکوونکي ته خبر ورکړي.

(۶) هغه اشخاص چې غوښتنلیکونه یې رد کېږي، کولای شي نوی غوښتنلیک لـــه قانع کوونکو دلایلـــو ســـره ادارې تـــه وړاندې کړي.

(۷) بهرنی شخص چـــې ددې قـــانون د حکمونو مطابق هستوي فعالیـــت ســـرته رسوي، مکلف دی د رادیواکتیف پـــاتې مواد او د هغهٔ فاضله مـــواد د فعالیـــت له ختمېد و وروسته له هېواد څخه بهر ته ولېږدوي، پرته له دې ممنوع الخروج او ترعدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

## د جوازلیـــک او اجـــازه لیـــک د صادرېدو موارد

**لسمه ماده:**

(۱) اداره کولای شي د لاندې مواردو له څېړنې وروسته جوازلیک او اجازه لیک صادر کړي:

۱–د عامه ګټو د تأمین او لـــه هســـتوي فعالیت څخه د راپیدا شوې تشعشـــع د

دلایل آن را طورهمـــه جانبـــه مـــورد غوروارزیابی قرارداده، حد اکثردرخلال مدت سه ماه به درخواست دهنده اطلاع دهد.

(۶) اشخاصی که درخواست ایشان رد می گردد، می توانند درخواست جدید را بادلایـــل مقنـــع بـــه اداره ارائـــه نمایند.

(۷) شخص خارجی که مطابق احکام این قانون فعالیت هستوی را انجام می دهد مکلف است مواد با قیمانـــده رادیـــو اکتیف ومواد فاضله آن را بعد ازخـــتم فعالیت به خارج ازکشورانتقال نمایـــد درغیرآن ممنوع الخروج ومورد تعقیب عدلی قرارمی گیرد.

## مـــــوارد صـــــدورجوازنامه و اجازه نامه

**مادهٔ دهم:**

(۱) اداره می تواند بعد ازتحقق مـــوارد ذیل جوازنامه واجازه نامـــه را صـــادر نماید:

۱– حصـــول اطمینـــان ازتـــأمین منافع عامه وتوانـــایی خنثـــی نمـــودن

ضررونو د خنثي کولو له توانمنۍ څخه ډاډ ترلاسه کول.

۲- له آیونایزکوونکو تشعشعاتو څخه د ژوند چاپېریال ساتنې له تأمین څخه ډاډ ترلاسه کول.

۳- له دې څخه چې هستوي فعالیت یوازې د سوله ییزو مقصدونو له پاره د هغو بین المللي معاهدو او میثاقونو مطابق چې د افغانستان اسلامي جمهوریت له هغو سره الحاق کړی دی سرته ورسېږي، ډاډ ترلاسه کول.

۴- له تشعشع څخه د ساتنې له بنستیزو قواعدو څخه د کافي پوهې ( فهم) د لرلو په اړه د لیکلي سند وړاندې کول.

۵- په اوس او راتلونکې کې د کارکوونکو او خلکو د ساتنې او خوندیتوب له پاره د لازمو تدبیرونو د نیولو په اړه لیکلی تعهد.

۶- د رادیولوژیکي خطرونو په وړاندې د دفاعي تدبیرونو د طرح او تطبیق په شمول د مناسب خوندیتوب د تأمین له پاره د لازمو تخنیکي، مالي او تشکیلاتي تدبیرونو د نیولو په اړه لیکلی تعهد.

اضرارتشعشع ناشی از فعالیت هستوی.

۲- حصول اطمینان از تأمین حفاظت محیط زیست ناشی ازتشعشعات آیونایز کننده.

۳- حصول اطمینان ازاینکه فعالیت هستوی تنها برای مقاصد صلح آمیز مطابق معاهدات ومیثاقهای بین المللی که جمهوری اسلامی افغانستان به آن الحاق نموده است انجام یابد.

۴- ارائه سند کتبی مبنی بر داشتن فهم کافی ازقواعد اساسی حافظت از تشعشع.

۵- تعهد کتبی مبنی براتخاذ تدابیر لازم جهت محافظت ومصئونیت کارکنان ومردم درحال و آینده.

۶- تعهد کتبی مبنی براتخاذ تدابیرلازم تخنیکی، مالی وتشکیلاتی جهت تأمین مصئونیت مناسب بشمول طرح وتطبیق تدابیردفاعی درمقابل خطرات رادیو لوژیکی .

۷- د اضطرار په حالت کې له احتمالي خطرونو څخه د مخنیوي په منظور د منظم او مناسب پلان لرل.

۸- د اداري د ټاکل شوي دوز( د کتلې د في واحد انرژي) د حدودو رعایتول او د بین المللي ستندردونو مطابق په آیونایزکوونکې تشعشع د کارکوونکو له معروضیت څخه څارنه.

۹- د فاضله موادو د دفع، چاڼ ( تصفیې) او د رادیولوژیکي احتمالي زیان او انحلال له پاره د مناسبو مالي امکاناتو لرل.

۱۰- د پام وړ هستوي مرکزونو ته د اداري د پلټونکو لاسرسۍ ته د زمینې د برابرولو په اړه لیکلی تعهد.

۱۱- د اداري د اړتیا وړ معلوماتو د برابرولو په اړه لیکلی تعهد.

(۲) که چېرې شخص و نشي کولای، ددې مادې د (۱) فقرې په (۴) جزء کې درج شوی سند وړاندې کړي، مکلف دي، له وړانګې څخه د ساتنې زده کړه ییزه برنامه په اداره کې تېره کړي او لیکلی سند واخلي.

۷- داشتن پلان منظم ومناسب به منظورجلوگیری ازخطرات احتمالی درحالات اضطرار.

۸- رعایت حدود دوز(انرژی فی واحد کتله) تعیین شده اداره ونظارت ازمعروضیت کارکنان به تشعشع آیونایزکننده مطابق ستند ردهای بین المللی.

۹- داشتن امکانات مالی مناسب جهت دفع مواد فاضله، تصفیه و آسیب احتمالی رادیولوژیکی و انحلال.

۱۰- تعهد کتبی مبنی بر فراهم نمودن زمینه دسترسی مفتشین اداره به مراکز هستوی مورد نظر.

۱۱- تعهد کتبی مبنی برفراهم نمودن معلومات مورد نیازاداره .

(۲) هرگاه شخص نتواند، سند مندرج جزء (۴) فقرهٔ (۱) این ماده را ارایه کند مکلف است، برنامه آموزشی حفاظت از شعاع را در اداره سپری وسند کتبی اخذ نماید.

(۳) د هستوي فعالیت د جــواز لیــک لرونکی مکلف دی، د مشخص هستوي فعالیت د اجراء په منظور، له اداري څخه جلا اجازه لیک واخلي.

(۴) که چېرې د هستوي فعالیت د جواز لیک موده (وخت) پای ته ورسېږي، اداره کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوو مواردو ته په پام سره جــواز لیک د (۷۵۰۰۰) پنځه اویازرو افغانیو په بدل کې تمدید کړي.

(۵) په دې قانون کې درج شوی جــواز لیک او اجازه لیک بل شخص ته نشــي لېږدول کېدای.

## د کار خنډونه( موانع)

**یوولسمه ماده:**

لاندې اشخاص نــه شــي کــولای لــه آیونایزکوونکوتشعشعاتو سره کار وکړي:

۱–هغه شخص چې اتلس کلنی سن یــې بشپړ کړی نه وي.

۲– هغه شخص چې د روغتیایي کتنو په بهیر کې د تشعشع په خطــر معــروض تشخیص شي.

(۳) دارندۀ جوازنامه فعالیت هســتوی مکلف است، به منظوراجرای فعالیــت مشخص هستوی اجازه نامۀ جداگانه را ازاداره اخذ نماید.

(۴) هرگاه میعاد جوازنامــه فعالیــت هستوی خاتمه یابد، اداره می تواند بــا نظرداشت موارد مندرج فقرۀ (۱) ایــن ماده جوازنامه را دربدل مبلغ (۷۵۰۰۰) هفتـــاد وپـــنج هزارافغـــانی تمدیـــد نماید.

(۵) جوازنامه واجازه نامه مندرج ایــن قانون به شخص دیگر انتـــقال شـــده نمی تواند.

## موانع کار

**مادۀ یازدهم:**

اشخاص ذیل نمی توانند بــا تشعشــع ایونایز کننده کارنمایند:

۱– شخصی که سن هجــده ســالگی راتکمیل ننموده باشد.

۲– شخصی که درجریان معاینات صحی معروض به خطرتشعشــع، تشــخیص شود.

## د جواز ليک او اجازه ليک د لغـو حالات

**دوولسمه ماده:**

ددې قانون په نهمـه مـاده کـې درج جوازليک او اجازه ليک په لاندې حالاتو کې لغو کيږي:

۱-ددې قانون د حکمونو د نه تطبيق په صورت کې.

۲- د جوازليک او اجازه ليک لرونکي د مړينې يا د حکمي شخصيت د انحلال په صورت کې.

۳- د ژوند چاپېريال ته له مجاز حد څخه د زياتو ناوړو زيانونو د رسېدو ( اووښتو) په صورت کې.

## له هستوي فعاليت څخه انصراف

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د جواز ليک لرونکی کولای شي، له هستوي فعاليت څخه د انصراف پـه اړه غوښتنليک، اداري ته وړاندې کړي.

(۲) اداره کولای شي ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی غوښتنليک، تر غور او څېړنې لاندې ونيسي، د هغۀ د منلو يا

## حـــالات لغوجوازنامـــه و اجازه نامه

**مادۀ دوازدهم:**

جوازنامه واجازه نامه مندرج مادۀ نهـم ايـن قـانون درحـالات ذيـل لغـو می گردد:

۱- درصورت عدم تطبيق احکام ايـن قانون.

۲- درصورت فوت دارندۀ جوازنامـه واجازه نامه يا انحـلال شخصـيت حکمی.

۳- درصـورت بروزاثـرات سوء بيشترازحد مجـاز بـه محـيط زيست.

## انصراف ازفعاليت هستوی

**مادۀ سيزدهم:**

(۱) دارنـدۀ جوازنامـه مـی توانـد، درخواست مبنی برانصراف ازفعاليـت هستوی را به اداره ارائه نمايد.

(۲) اداره می تواند درخواست منـدرج فقرۀ (۱) اين ماده را مورد غور وارزيابی قرارداده، درمورد قبولی يا رد آن تصميم

رد په هکله مقتضي تصميم ونيسي.

## د پلټونکو توظيفول

**څوارلسمه ماده:**

(۱) اداره ددې قانون د حکمونو، اړوندو مقرراتو، کړنلارو، لارښودونو د تطبيق په منظور د مسلکي او تخصص لرونکو اشخاصو له منځ څخه پلټونکي توظيفوي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي پلټونکي، د لاندې دندو او واکونو لرونکي دي:

۱- د پام (نظر) وړ ځای او اړوندو تأسيساتو پلټنه.

۲- ددې قانون د حکمونو مغاير هر ډول فعاليت درول (توقف).

۳- د هر ډول هغو سندونو او شيانو ضبطول چې پر سرغړونې دلالت وکړي او ددې قانون د حکمونو مطابق جرم وګڼل شي.

۴- له پام وړ شخص څخه شفاهي يا ليکلی استجواب.

۵- په دې قانون کې د درج سپارل شوو دندو د بنې اجرأ په منظور، له اشخاصو

مقتضی اتخاذ نماید.

## توظیف مفتشین

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) اداره به منظورتطبیق احکام این قانون، مقررات، طرزالعمل ها ورهنمودهای مربوط، مفتشین را ازمیان اشخاص مسلکی ودارای تخصص توظیف می نماید.

(۲) مفتشین مندرج فقرۀ (۱) این ماده دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشند:

۱- تفتیش محل مورد نظروتأسیسات مربوط.

۲- توقف هرنوع فعالیت مغایر احکام این قانون.

۳- ضبط هرنوع اسناد واشیای که دلالت برتخطی نموده ومطابق احکام این قانون جرم پنداشته شود.

۴- استجواب شفاهی یا کتبی ازشخص مورد نظر.

۵- مطالبه معلومات وهمکاری های تخنیکی لازم ازاشخاص به منظوراجرای

څخه د لازمو معلوماتو او تخنيکي همکارۍ غوښتنه.

٦- د تشعشع د سرچينې د خوندي والي او د هستوي فعاليتونو د خونديتوب په هکله د معلوماتو ترلاسه کول.

٧- په هستوي موادو او تشعشعي سرچينو کې شامله د هرې واقعې يا پېښې پلټنه.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي پلټونکي مکلف دي د پلټنې په وخت کې د پلټنې مخصوص کارت وړاندې کړي.

## د تدبيرونو تنفيذ

پنځلسمه ماده:

(۱) که چېرې اداره تشخيص کړي چې د جوازليک او اجازه ليک شرايط د هغو د لرونکو له خوا نقض شوي دي، کولای شي ددې قانون د حکمونو د رعايت په اړه، لاندې شرايطو ته په پام سره حکم صادر کړي:

۱- په ټاکلې موده کې د سرغړونو په لرې کولو، د سرغړوونکي مکلفول.

۲- د سرغړوونکي د جوازليک او اجازه

بهتروظايف محوله مندرج اين قانون.

٦- کسب معلومات درمورد محفوظ بودن منبع تشعشع ومصئونيت فعاليت های هستوی.

٧- تفتيش هرواقعه يا حادثه شامل مواد هستوی يا منابع تشعشعی.

(۳) مفتشين مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مکلف اند حين تفتيش کارت مخصوص تفتيش را ارايه نمايند.

## تنفيذ تدابير

مادۀ پانزدهم:

(۱) هرگاه اداره تشخيص نمايد که شرايط جوازنامه يا اجازه نامه ازطرف دارندگان آن نقض گرديده است، می تواند حکم مبنی بررعايت احکام اين قانون را با درنظرداشت شرايط آتی صادرنمايد:

۱- مکلف ساختن متخلف به رفع تخلفات درمدت معينه .

۲- تعليق فوری جوازنامه يا اجازه نامه

لیک فوري تعلیق، په دې شرط چې دغه اقدام د بیړني ( عاجل) خطر د مخنیوي یا راټیټولو سبب شي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي تدبیرونه، اغېزمن واقع نه شي، اداره کولای شي، لاندې تصمیمونه ونیسي:

۱- په جواز لیک یا اجازه لیک کې د درج شوو شرایطو د رعایت او دهغه د لرونکي په واسطه د زیان د جبران په منظور د لازمو تدبیرونو د نیولو په اړه د هدایت صادرول.

۲- په جوازلیک او اجازه لیک کې د درج شوو شرایطو تعدیل.

۳- د جواز لیک او اجازه لیک لغو.

۴- اړوندو مراجعو ته د عدلي تعقیب په غرض د قضیې احاله کول.

## درېیم فصل

## د تشعشع محافظت

بنسټیز اصول

سپاړسمه ماده:

له تشعشع څخه د ساتنې ( خوندیتوب) په

متخلف، مشروط براینکه این اقدام سبب جلوگیری یا کاهش خطر عاجل گردد.

(۲) هرگاه تدابیر مندرج فقرۀ (۱) این ماده موثرواقع نگردد، اداره می تواند تصامیم ذیل را اتخاذ نماید:

۱-صدورهدایت مبنی بر اتخاذ تدابیرلازم به منظوررعایت شرایط مندرج جوازنامه یا اجازه نامه وجبران خساره وارده توسط دارنده آن.

۲- تعدیل شرایط مندرج جوازنامه یا اجازه نامه.

۳- لغو جوازنامه یا اجازه نامه.

۴- احاله قضیه غرض تعقیب عدلی به مراجع مربوط.

## فصل سوم

## محافظت ازتشعشع

اصول بنیادی

مادۀ شانزدهم:

به منظورمحافظت ازتشعشع موارد ذیل

منظور لاندې موارد بنسټیز اصول ګڼل شوي او پر ټولو هستوي فعالیتونو او کړنو د تطبیق وړ دي:

توجیه: هغه هستوي فعالیت چې ټولیزو، اقتصادي او روغتیایي چارو ته یې ګټه له زیانونو څخه زیاته نه وي او احتمالي زیان جبران نه کړي، مجاز نه دی.

ښه ( بهتره) کول: خطر ته د معروضو یا خطر ته د تحمیلي معروضیت چې د تشعشع د فعالیت له امله منځته راځي د اشخاصو د ګټې اخیستنې وړ وړانګې د دوز د لږ تر لږه ( حد اقل) د ساتنې په اړه، ټولیزو او اقتصادي فکتورونو ته په پام سره د ساتنیزو تدبیرونو نیول.

د اندازې محدودیت: د هستوي فعالیت تضمین په داسې ډول چې د ګټې اخیستنې وړ وړانګې دوز له هغې اندازې څخه چې اداري ټاکلی دی، زیاتی(تجاوز) ونه کړي.

## د سرچینو او کړنو کنترول او مراقبت

اوولسمه ماده:

(۱) د هستوي فعالیتونو په بهیر کې د

اصول بنیادی شمرده شده وبالای تمام فعالیت های هستوی وعملکرد قابل تطبیق می باشد:

توجیه: فعالیت هستوی که مفاد آن ازاضرارش برای اموراجتماعی، اقتصادی وصحی بیشترنبوده وزیان احتمالی را جبران نکند، مجازنمی باشد.

بهترسازی: تأمین تدابیرمحافظتی با نظرداشت فکتورهای اجتماعی و اقتصادی مبنی برنگهداری حد اقل دوزاشعه مورد استفاده اشخاص معروض به خطریا معروضیت تحمیلی به خطر که بالاثر فعالیت تشعشع به وجود می اید.

محدودیت اندازه: تضمین فعالیت هستوی به نحویکه دوزاشعه مورد استعمال ازاندازه که اداره تعیین نموده، تجاوز نکند.

## کنترول ومراقبت منابع و عملکردها

مادۀ هفدهم:

(۱) حدود دوزاشعه به منظورحفاظت

اشخاصو د ساتنې په منظور، د وړانګې د دوز حدود، د اتومي انرژۍ د بین المللي آژانس لارښودونو ته په پام سره، په جلا مقرره کې تنظیمیږي.

(۲) د آیونـــایزکوونکې تشعشـــع لــــه معروضیت څخه د اشخاصو ساتنه، د جلا مقررې مطابق تنظیمیږي.

## د سرچینواوکړنو نـــه کنتـــرول او مراقبت

**اتلسمه ماده:**

(۱) سرچینې اوکړنې په لاندې حـــالتونو کې د کنترول او مراقبت ایجاب نه کوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د اشخاصو له پاره د تشعشع خطر له مجاز حد څخه لږ (کم) وي چې کنترول او مراقبت ایجاب نه کړي.

۲- په هغهٔ صورت کــې چـــې ټـــولیزه (جمعي) رادیولوژیکي اغېزه له مجاز حد څخه لږ وي چې د کنترول او مـــراقبت ایجاب نه کړي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې فعالیـــت او کړنه د ادارې له خوا خوندي وګڼل شي.

(۲) اداره د رادیواکتیف یا له هغهٔ څخه د

اشخاص درجریان فعالیت های هستوی با درنظرداشت رهنمود هـــای آژانـــس بین المللی انرژی اتومی در مقررهٔ جدا گانه تنظیم می گردد.

(۲) حفاظت اشـــخاص ازاضرارناشـــی ازمعروضیت تشعشع آیونایزکننده طبـــق مقررهٔ جداگانه تنظیم می گردد.

## عدم کنتـــرول ومراقبـــت منـــابع وعملکردها

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) منابع وعملکردها درحالات ذیـــل ایجاب کنترول ومراقبت را نمی نماید:

۱- درصورتی که خطرتشعشع بـــرای اشـــخاص ازحـــد مجـــازکم باشـــد کـــه ایجـــاب کنتـــرول ومراقبـــت را ننماید.

۲- درصورتی که تاثیر رادیولـــوژیکی جمعـــی از حـــد مجـــاز کـــم باشـــد کـــه ایجـــاب کنتـــرول ومراقبـــت را ننماید.

۳-درصورتی که فعالیـــت وعملکـــرد ازطرف اداره مصئون پنداشته شود.

(۲) اداره اندازه مجازمواد رادیواکتیف

راپيدا شوو موادو مجازه اندازه چې په هستوي فعاليت کې تر ګټې اخيستنې لاندې راځي او کنترول او مراقبت ايجاب نه کړي، ټاکي.

## د وړانګو په ساتنه کې د جوازليک او اجازه ليک د لرونکو مکلفيت

**نولسمه ماده:**

(۱) د جوازليک او اجازه ليک لرونکي او اړوند مسئولين چې آيونايزکوونکې وړانګه استعمالوي، مکلف دي د ژوند چاپېريال له راديولوژيکو زيانونو څخه د انرژۍ د بين المللي آژانس د ستندرد مطابق، وساتي.

(۲) د جوازليک او اجازه ليک لرونکي او اړوند مسئولين مکلف دي، د اړوندو فعاليتونو په بهير کې محدوديتونه او مجاز دوز چې د ادارې له خوا ټاکل شوی دی، رعايت کړي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص مکلف دي، د وړانګې د سرچينې د ويجاړېدو يا ضايع کېدو او يا له هرې پېښې او واقعې څخه چې د وړانګې د سرچينې د ويجاړېدو يا ضايع

يا مواد ناشی ازآن را که درفعاليت هستوی مورد استفاده قرارگرفته و ايجاب کنترول ومراقبت را نکند، تعيين می نمايد.

## مکلفيت دارندگان جوازنامه واجازه نامه درمحافظت شعاع

**مادۀ نزدهم:**

(۱) دارندۀ جوازنامه واجازه نامه ومسئولين ذيربط که شعاع آيونايزکننده را استعمال می نمايند، مکلف اند محيط زيست را ازصدمات راديولوژيک مطابق ستندرد آژانس بين المللی انرژی هستوی، حفاظت نمايند.

(۲) دارندۀ جوازنامه واجازه نامه ومسئولين ذيربط مکلف اند، درجريان فعاليت های مربوط محدوديت ها ودوز مجاز که توسط اداره تعيين گرديده رعايت نمايند.

(۳) اشخاص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مکلف اند، از تخريب يا ضياع منبع شعاع ويا هرحادثه يا واقعه که موجب تخريب يا ضياع منبع شعاع می گردد درخلال

کېدو موجب ګرځي، د ( ۲۴) ساعتونو مودې په ترځ کې ادارې ته خبر ورکړي.

(۴) د روغتيايي مرکز مسئول نه شي کولای، ناروغ د تشخيص يا درملنې په منظور له وړانګې سره مخامخ کړي، خودا چې د مؤظف طبيب او په دې برخه کې له وړانګې څخه د ساتنې او خونديتوب د رعايتېدو تصديق اخيستل شوی وي.

## څلورم فصل
## د راديواکتيف د سرچينو او موادو کنترول

**د ادارې مکلفيت**

**شلمه ماده:**

(۱) اداره مکلفه ده د راديواکتيف د سرچينو او موادو او د هغو د دستګاوو د کنترول او خوندي مراقبت په منظور، د اړوندې کړنلارې مطابق اغېزمن تدبيرونه ونيسي.

(۲) د ژوند چاپېريال باندې د راديواکتيف د سرچينو او موادو با لقوه زيان طبقه بندي، د اتومي انرژۍ د بين المللي آژانس

مدت (۲۴) ساعت به ادارهٔ اطلاع دهند.

(۴) مسئول مرکزصحی نمی تواند، مریض را به منظورتشخیص یا تداوی با شعاع مواجه سازد، مگراینکه تصدیق طبیب مؤظف ورعایت محافظت و مصئونیت ازشعاع درزمینه اخذ گردیده باشد.

## فصل چهارم
## کنترول منابع و مواد را دیو اکتیف

**مکلفیت اداره**

**مادهٔ بیستم:**

(۱) اداره مکلف است به منظور کنترول ومراقبت مصئون منابع ومواد رادیو اکتیف ودستگاه های آن تدابیرموثررا طبق طرزالعمل مربوط اتخاذ نماید.

(۲) طبقه بندی صدمه بالقوه منابع و مواد رادیو اکتیف بالای محیط زیست، طبق رهنمود های آژانس

د لارښودونو مطابق د ادارې په واسطه صورت مومي.

## د تشعشع د سرچینو ثبت

**یوویشتمه ماده:**

(۱) اداره، د تشعشع سرچینې له لازمې صنف بندۍ وروسته ثبتوي.

(۲) اداره، د تشعشع د ثبت شوو سرچینو د ساتنې، خوندیتوب او امنیت په منظور، لازم تدبیرونه نیسي.

## صادرات او واردات

**دوه ویشتمه ماده:**

د تشعشع د سرچینو او رادیواکتیف موادو صادرول، واردول او ترانزیت د اتومي انرژۍ د بین المللی آژانس د لارښودونو په پام کې نیولو سره، په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

## د بې سرپرسته سرچینو کنترول

**درویشتمه ماده:**

اداره داړوندو ادارو په همکارۍ د تشعشع دبې سرپرسته سرچینو د بیا موندنې او کنترول په منظور، د جلا کړنلارې مطابق، لازم تدبیرونه نیسي.

بین المللی اتومی توسط اداره صورت می گیرد.

## ثبت منابع تشعشع

**مادهٔ بیست ویکم:**

(۱) اداره، منابع تشعشع را بعد ازصنف بندی لازم ثبت می نماید.

(۲) اداره به منظورمحافظت، مصئونیت وامنیت منابع تشعشع ثبت شده تدابیر لازم را اتخاذ می نماید.

## صادرات وواردات

**مادهٔ بیست ودوم:**

صادرات و واردات وترانزیت منابع تشعشع ومواد رادیو اکتیف با رعایت رهنمودهای آژانس بین المللی انرژی اتومی درمقررهٔ جداگانه، تنظیم می گردد.

## کنترول منابع بی سرپرست

**مادهٔ بیست وسوم:**

اداره به همکاری ادارات ذیربط به منظور بازیابی وکنترول منابع تشعشع بی سرپرست طبق طرزالعمل جداگانه تدابیرلازم را اتخاذ می نماید.

## د تحقيقي او صنعتي ريكتورونو كنترول

**څلوېشتمه ماده:**

(۱) اداره د تحقيقي او صنعتي ريكتورونو د كنترول او مراقبت په منظور، لاندې تدبيرونه نيسي:

۱- د طراحی، ودانولو( ساختمان)، ځای پرځای كولو او د كړنې (كار كولو) د هغو د ساتنې او مراقبت او انحلال په غرض د معيارونو ټاكل.

۲- له خونديتوب او امنيت څخه د ډاډ ترلاسه كولو له پاره د مالي او بشري سرچينو ارزونه.

۳- د كيفيت د تأمين د برنامو تنظيم.

۴- له وړانگې څخه د ساتنې د برنامو تنظيم.

۵- په اضطراري حالتونو كې د چمتووالي له پاره، د برنامو تنظيم.

۶- د انحلال په پروسه كې د تحقيقاتي او صنعتي ريكتورونو د خونديتوب او امنيت د ابقأ له پاره د تخنيكي ساتنې د برنامې تنظيم.

(۲) اداره كولای شي، ددې مادې په (۱)

## كنترول ريكتورهای تحقيقاتی وصنعتی

**مادۀ بيست وچهارم:**

(۱) اداره به منظوركنترول ومراقبت ريكتورهای تحقيقاتی وصنعتی تدابيرذيل را اتخاذ می نمايد:

۱- تعيين معيارها غرض طراحی، ساختمان، جابجا ساختن و طرز عملكرد، حفظ ومراقبت وانحلال آنها.

۲- ارزيابی منابع مالی وبشری جهت حصول اطمينان ازمصئونيت و امنيت.

۳- تنظيم برنامه های تأمين كيفيت .

۴- تنظيم برنامه های محافظت از شعاع.

